# بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

| کال | ګڼه | ټوک |
|---|---|---|
| ۱۴۰۲ | دوهمه | دوهم |

# BOST UNIVERSITY IN SOCIAL MEDIA

**FACEBOOK**

@bostuniversity

**TWITTER**

@bostuniversity

**INSTAGRAM**

@universitybost

**YOUTUBE**

@bostuniversity

**LINKEDIN**

@bostuniversity

**WEBSITE**

www.bost.edu.af

**EMAIL ADDRESS**

info@bost.edu.af

research@bost.edu.af

**PHONE NUMBER**

034 200 0008

0702 300 728

بسم الله الرحمن الرحیم

# بُست علمي او څېړنیزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دوهم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري

**کتنپلاوی:**

⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال
⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر
⇐ پوهنمل عبدالولي هجران
⇐ پوهنمل حنیف الله باوري
⇐ پوهنیار عبدالولی همت
⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی
⇐ خان محمد وفا
⇐ ډاکتر ذبیح الله انوری
⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی
⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد
⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت
⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري
⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۲

درک: بُست پوهنتون، لښکرګاه،هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګانه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسي څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څیړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څیړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څیړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څیړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډېر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزې مجلې د دوهم ټوک، دوهمې ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزې مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د ننني نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسې، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازې د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزې مقالې او لیکنې د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کې به نورې برخې هم ور زیاتې کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشاالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلې علمي څېړنیزې مجلې د خپرولو له لارې خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) ادا کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهې څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چې ددې علمي او څېړنیزې مجلې او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کې خپلې علمي او څېړنیزې لیکنې، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکې او مرستې د تل په شان راولوروی او د علم ددې ستر کور په ودانولو کې د خپلې دیني، او ملي برخې د ادایني ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چې انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزنې او څېړنیز هاند لپاره اړینې او د پام وړاسانتیاوې برابرې کړو تر څو په لومړي پړاو کښې خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځې حوزې او په پای کښې و ټولو هیوادوالو ته د یو داسې چوپړ مصدر وګرځي چې زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزې ستونزې حل او افغانستان د نړې د پرمختللوهیوادونو په لیکه کې ودریږي.

## لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
| --- | --- |


**د نباتي حشره وژونکو پېژندنه** ---------------------------------------------------------------------------------------------- 1
پوهنمل عبدالحمید نظري

**د هلمند ولایت لښکرګاه ولسوالۍ په دوو کلیو بولان او بشران کي د تورو ماشو د تولید، لګښت او ګټورتوب څېړنه** 8
پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، پوهنیار محمد هاشم پوپل، میرویس نظری

**پر کرهڼه باندي د اقلیمي تغیراتو اغېزې** ------------------------------------------------------------------------------------ 22
انجنیر محمدالدین خادم، پوهنیار محمدهاشم پوپل، پوهنیار محمدآمان احمدزی

**د هلمند ولایت حجارۍ او نجارۍ فابریکې اقتصادي ارزښت، ستونزي او د SWOT تحلیل څېړنه** ------ 30
پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، ارسلان وطندار

**د حکومت په مالي او عایداتي جوړښت کي د سیګټاس اغېزې** ------------------------------------------------------- 41
ارسلان وطندار، پوهندوی دوکتور علي احمد، احمد لطیف

**د هلمند ولایت نادعلی ولسوالی کی د جوارو تولید اقتصادی ارزښت څیړنه** ---------------------------------- 50
پوهنیار بریالی رفیع، پوهندوی دوکتور علی احمد، پوهنیار زمریالی تنی، امان الله نیازی

**د زرغون انقلاب په راوستلو کي د دولت او مسلکي خلکو رول** --------------------------------------------------- 62
پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنمل عبدالحمید نظري، پوهنیار محمدهاشم پوپل

**د غنمو په تولید کي د فاسفورس رول ته کتنه** --------------------------------------------------------------------------- 74
پوهنیار محمدهاشم پوپل، انجنر محمدالدین خادم

**د غنمو په تولید کي د غذایي موادو رول، کمښت او زهریت ته کتنه** ----------------------------------------------- 84
پوهنیار زمریالی تنی

**د غوښینو چرګانو په فارمونو کي د واکسین د ناکامۍ د عواملو څېړل** ---------------------------------------- 98
پوهنیار عبد الولي همت

**د کار موندني د پراختیا لپاره نویو مهارتونه ته کتنه** ---------------------------------------------------------- 105
پوهنوال ډاکټر خال محمد احمدزی، پوهندوی ډاکټر علی احمد

# د حکومت په مالي او عایداتي جوړښت کي د سیګټاس اغېزې

ارسلان وطندار[1*] ، پوهندوی دوکتور علي احمد[2]، احمد لطیف[3]

[1]اداره او تشبثات څانګه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

[2]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[3]اداره او تشبثات څانګه، د اقتصاد پوهنځی فارغ التحصل، بُست پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس: ar.watan1988@gmail.com

## لنډیز

سیګټاس سیستم یو سرور دی چي د دولت د مالیاتو راټولول تنظیموي، د کاناډایانو له خوا څخه جوړسوی دی، د دولت د مالیاتو راټولو د تنظیم یو غوره معیاري سیستم دی، چي د هغه پواسطه حکومت کولای سي په آتومیتیک ډول د خپلو اداراتو څخه ټول مالیات او لېنسونه کوم چي د حکمي او حقیقي معلوماتو لپاره په کار وړل کیږي، دولت عاید د لاسته راوړلو له پاره د مختلفو سیستمونو څخه استفاده کوي، چي د هغوی له جملې څخه د سیګټاس سیستم یادونه کولای سو، د نوموړي سیستم معنی د دولت د مالیاتو راټولولو د تنظیم معیاري سیستم چي د کاناډیانو له خوا په (۱۹۹۲م) کال کي جوړ سوی دی، د دغه څېړني د تر سره کولو څخه مي موخه داده، چي په کندهار کي د سیګټاس سیستم رول، هدف او هغه سهولتونه چي د مالیې ورکوونکو لپاره یې برابر کړي روښانه کړم، د دغه سیستم له طریقه مالیات لاس ته راوړي ترڅو په هره اداره کي د وخت د ضایع کېدو او د فساد مخه ونیول سي او هم تجارانو ته سهولتونه برابر کړي. نوموړې څېړنه یوه کمي او کیفي څېړنه ده د دې سیستم اړوند اولي معلومات د سیګټاس سیستم له کارکوونکو او هغه شرکتونو څخه چي دغه سیستم سره ثبت سوی وو، د پوښتلیکونو او مخامخ مرکو په واسطه ترلاسه کړل، چي ۸۰ پوښتنلیکونه مو ور وېشلي په هغو کي ۲۶ د سیستم کارکوونکو او پاته برخه شرکتونو ته وېشلي او څېړلي دي چي په کندهار کي د دې سیستم په واسطه څومره مالیاتي عواید د دولت خزانې ته راغلي دي یا دولت تر اوسه څومره عواید له دې لارې په کندهار کي تر لاسه کړي دي.

**کلیدي کلمې:** مالیات، عواید او سیګټاس

## سريزه

د افغانستان هر وګړی ملکف دی چې د قانون د احکامو سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي. دولتونه د خپلو فعاليتونو او چارو د اجرا او پر مخ وړلو او پايښت لپاره يو سلسله لګښتونو (مصارفو) ته اړتيا لري چې دا لګښتونه بيا تمويلي زيرمو ته لاسرسي مومي، نو د دې په خاطر دولتونه کوښښ کوي ترڅو داسي لاري پيدا کړي، چې يو منظم عايد لاسته راوړي، ځکه چې د دولتي عايداتو د لاسته راوړلو لپاره مختلفي طريقې موجودي دي، د هغه له جملې څخه کېدای سي د مالياتو نوم واخلو، چې د دولتي عايداتو يوه ښه منبع ګڼل کيږي، نن ورځ د افغانستان زياتره برخه عايدات د مالياتو څخه لاسته راځي چې په اقتصادي، سياسي او فرهنګني برخو کي مهم رول لري. ماليات يوه ستره منبع ده چي دولتونه کېداسي د هغه له لاري خپلو عمده او اساسي موخي (هدفونه) ترلاسه کړي. څرنګه چي موږ ته معلومه ده چي په يو هيواد حکومت ته د ماليې ورکړه هيواد په خپل ځان اکتفا کوي ترڅو نورو هيوادونو ته له لاس غځوني، استعمار او پور څخه وژغورل سي *(Afghanistan Revenue Department - SIGTAS Project, 2010)*

د ماليې ورکړه د يو هيواد د مصارفو د تامين اساسي سبب دی، چي هغه هيواد کولای سي خپل اکثره مصارف لکه: زيربنايي، امنيتي، صحي، تعليمي، پوځي، ساختماني، صنعتي، عامه، همداسي ضعيفانو، مساکينو، يتيمانو، بيوزلو، کونډو او بې سرپرسته انسانانو همکاري ته دا خدمات په صحيح ډول ورسوي او که چيري دغه مالياتي عايد يې کم وي، نو دا به د انسانانو عمومي ګټې او برم د ننګوني سره مخ کړي.

نو زموږ د ګران وطن افغانستان د ماليې وزارت هر کال توانيدلی چي ماليه راټوله کړي، ترڅو هيواد مو نوموړي خدمات په ښه ډول سرته ورسوي. د ماليې ورکړه د يو هيواد لپاره د هر فرد يو مسوليت دی، نو لازمه ده، چي هر فرد د هيواد په چارو کي خپل مسوليت په ښه ډول ادا کړي ترڅو د هيواد د پرمختګ لامل وګرځي، نو د دې لپاره د ماليې وزارت يو نوی او عصري سيستم، چي عبارت له سيګټاس څخه دی، د کاناډا څخه په ۱۳۸۹ هجري شمسي کال کي رانيولی. سيګټاس يو انګليسي نوم دی، چي مانا يې د دولت مالياتو راټولولو د تنظيم معياري سيستم، دا يو غوره سيستم دی، چي د مرکز له خوا کنټروليږي، هر کال د کاناډايانو له خوا نوی کيږي. د نوموړي سيستم پواسطه حکومت کولای سي په اتوميتيک ډول د خپلو اداراتو څخه ټول ماليات او لېښنسونه کوم، چي د انفرادي معلوماتو لپاره په کار وړل کيږي راټول کړي. سيګټاس سيستم د ۱۳۹۵ په يوولسمه مياشت کي د هيواد په ځينو ولايتونو کي د تطبيق چاري پيل کړې، نوموړی سيستم د نړۍ په نورو هيوادونو کي لکه: کاناډا، لبنان، ايتيوپيا او نورو هيوادونو کي هم تطبيق سوی دی او مثبتي پايلي يې ورکړي دي. *(Afghanistan Revenue Department - SIGTAS Project,* 2010)

**په افغانستان کي د مالياتو تاريخچه:**

ماليات د دولت د مهمو عايداتي مدارکو څخه حسابيږي د تاريخ په اوږدو کي يې مختلف نومونه ځانته اختيار کړي دي. په افغانستان کي د لومړي ځل لپاره د احمد شاه بابا په وخت کي مالي چاروته توجه وسوه، څرنګه چي (۱۱۶۵ ه ش) کال کي د دولتي تشکيلاتو په ډله کي د همايون اعلان ديوان په نوم د مالي وزارت منځ ته راغی، لومړی متصدي د دې امورو سردار عبدالله خان (پوپلزی) وو او د ديوان بيګي په نوم ياېده مقرر سو.

د ديوان بيګي لقب د وخت په تېرېدو سره په مستوفي المالك باندي بدل سو او د هغه صلاحيت دننی اداري د وزير سره برابروو. مالي چاري به په مرکز کي د مستوفي المالك له خوا او په ولايتونو کي به د تحصيلدارانو له خوا سرته رسېدلې، چي د اول دفتر او دوهم له خوا اجراات کېدل.

مستوفي المالك به په خپل ټول قدرت سره د ولاياتو حسابي امور يو ځای کول او سر ته به يې رسول، ساتنه او څارنه د همده په غاړه وه، په دغه دوره کي به سدوزيانو ډېر عوايد له بيلابيلو هيوادو څخه لاسته راوړل *(Afghanistan Revenue Department - SIGTAS Project,* 2010)

هغه عوايد چي د افغانستان د ولايتو څخه لاسته راتلل ډېر کم وه، دا ځکه چي د هر ځای ماليه به په هماغه ځای کي په مصرف رسېده مثلاً: د (۱۰۰۰۰۰) افغانيو په اندازه به د هغه ځای حاکم يا والي ته تخصيص ورکول کېده او باقي نور يې د دولت د مامورينو او فوځ د لګښتونو لپاره بيلېده.

د احمد شاه بابا په پراخي آمپراطورۍ کي چي شمال خواته د آمو د سيند، جنوب خواته تر بلوچستان او د غرب خوا ته د نيشاپور او مشهد پوري تشکيل درلوده، اضافي عوايد د دغه فتحه سوو منطقو نه په لاس راوړل کېده، چي ديوان اعلی کلني عوايد د دغې لاري نه کروړو افغانيو ته رسېده، که چيرته دغه ټول د مملکت د ابادۍ او پرمختګ لپاره په

مصرف رسېدلي وای نن ورځ به افغانستان د پر مختللو هيوادو په کتار کي وای.

له بده مرغه دغه ذکر سوي عوايد په پرله پسې جنگونو کي په مصرف رسېدل او څه برخه يې د ځينو کسانو له خوا په پټه او غيري قانوني ډول وړل کېده. د دولت عوايد په مختلفو صورتونو کي وه او د بېلابېلو لارو به يې سره ماليات راټولول، چي دغه ډول ماليات په ځينو سيمو کښې اجباري شکل درلود او په ځينو کښې يې اختياري شکل درلود.

د مثال په ډول: د بي بي د سرغوړولو په نامه يو ډول اختياري ماليه وه، چي د هزاره جاتو د خلکو له خوا د سوغات په توگه او په کال کښې يو اندازه زيړ غوړي د بادشاه دربار ته راوړل کېدل دغه غوړي قرار قرار د دولت د ماليه جزشو.

**د سيگټاس سيستم پېژندنه Introduction of Sigtas**

سيگټاس يو انگليسي نوم دی چي معنی يې (د دولت د مالياتو راټولولو د تنظيم معياري سيستم) دی. د کاناډايانو له خوا څخه جوړسوی دی، د دولت مالياتو راټولو د تنظيم معياری سيستم يو غوره معياري سيستم دی، چي د هغه پواسطه حکومت کولای سي په آتوميتک ډول د خپلو اداراتو څخه ټول ماليات او لېسنسونه کوم چي د حکمي او حقيقی معلوماتو لپاره په کار وړل کيږي سره راغونډ کړي، د سيگټاس قوي ارتجاعت د دې لامل کيږي چي د مهمو حدودو په پام کي نيولو سره لکه (سوداکريز قواعد، د اعلامي فورمه، د جريمې او سود نرخ ) هر ډول د مالي رژيم پلي کړی دی او د دې ترځنگ د مالي پاليسی تغير هم مني.

دغه سيستم په (۱۹) نورو هيوادونو کي په کار اچول شوی دی او مثبتي پايلي يې نوموړي هيوادونو ته د مالياتو په راټولو کي ورکړي دي، افغانستان شلم هيواد دی چي سيگټاس سيستم پکي پلی سوی دی، دغه معياري سيستم د افغانستان مالياتي سيستم سره ډېره مرسته کړې ده او له هر ډول غلطی څخه پاک سيستم دی او افغانستان کولای سي چي د دغه سيستم په واسطه د خپلو مالياتو په راتولولو کي زياتوالی راولي او هم خپل اقتصاد په خپلو پښو ودروي *Afghanistan Revenue* (*Department - SIGTAS Project,* 2010)

**د سيگټاس اهميت:**

سيگټاس يا د مالياتو د راټولولو معياري سيستم د دغه سيستم په وسيله به ماليات په ښه او شفاف ډول راټول او تر ډېر حده به ورسره د فساد مخه ونيول سی. د سيگټاس سيستم په فعاله کېدو سره به ماليات په عصري بڼه راټوليږي او د مستوفيت رياست په کارونو کي به چټکتيا رامنځ ته سی، ترڅو سوداگرو او صنعتکارانو ته لا هم نوري اسانتيا وي برابري کړي او ستونزي يې له منځه يوسي(**Prasad, 2014**).

د سيگټاس سيستم د فعاله کولو څخه يې موخه ماليه ورکونکو ته د اسانتياوو برابرول دي، د ياد سيستم په وسيله موږ کولای سو چي ماليات شفاف او په معياري ډول کنترول، مالياتی قوانين په ټول هيواد کي يوشان تطبيق او د ماليه ورکونکو ټول اسناد په دې سيستم کي خوندي کړو، همدارنگه د سيگټاس سيستم د ماليه ورکونکي ټول مشخصات خوندي کوي، ماليه ورکونکي ته په اتوماتيک ډول مالياتي اظهارليک استوي ماليات سنجوي او د مالياتي مکلفيتونو معافيتونو او مالياتي تعلق هم په دې سيستم کي تنظيميږي، د دغه سيستم په فعاله کېدو سره به ماليات پر وخت ترلاسه کوي او تر ډېره به ورسره د فساد مخه ونيول سي. د سيگټاس سيستم د ماليې وزارت په ۱۳۸۹ کال کي د کاناډا هيواد څخه رانيولی دی، چي اوس د هيواد په شپږو ولايتونو کي يې ځينی برخي تطبيق سوي دي. (**Prasad, 2014** )

**مواد او کړنلاره**

د څېړني ډول: دغه څېړنه يوه کمي او کيفي څېړنه ده، چي معلومات د دې څېړني لپاره په دوه ډوله ترلاسه سوي دي.

**اولي معلومات Primary data**

د دې سيستم اړوند اولي معلومات د سيگټاس سيستم له کارکوونکو او هغه شرکتونو څخه چي دغه سيستم سره ثبت سوی وو، د پوهنتنليکونو او مخامخ مرکو په واسطه ترلاسه کړل، چي ۸۰ پوښتنليکونه مو ور وېشلي په هغو کي ۲۶ د سيستم کارکوونکو او پاته برخه شرکتونو ته وېشل سوې او په SPSSاو اکسل کي پروگرامونو کي تحليل سوي دي.

**دوهمي معلومات Secondary data**

د دې څېړني لپاره دويمي معلومات د مجلو، کلني راپورونو، معتبرو انټرنيټي ويب سايټونو او همدارنگه د کندهار د مستوفيت څخه ترلاسه سوي دي.


**د څېړني ساحه:**

څرنگه چي د څېړني له عنوان څخه معلوميږي، دا څېړنه د يوه ولايت په سطحه تر سره کيږي، ترڅو معلومه کړو چي د سيگټاس سيستم رول

د کندهار ولایت په مالیاتي عوایدو کې څه ډول اغېزه لري، په دې څېړنه کې د کندهار ولایت د ۱۳۹۴، ۱۳۹۵ او د ۱۳۹۶ مالي کال د سیګتاس سیستم په واسطه راټول سوي عوایدو سره پرتله سوي دي او هم د سیګتاس سیستم څخه لاس ته راغلو مالیاتو جدول، چې د کندهار ولایت له مستوفیت څخه ترلاسه سوی، په خلص ډول راخستل سوي دي او همدارنګه، چې دا سیستم په کومو برخو کې تطبیق سوی در پېژندل کیږي، چې په همدې اساس سره په کندهار ولایت او هم د ټول افغانستان د مالیاتو راټولولو په سیستم پوه او معلومات ترلاسه کړئ.

## نتیجه او مناقشه

په لاندي ګراف کې به دا روښانه سي، چې د سیګتاس سیستم سره د خلکو بلدتیا سته او کنه؟ له سیستم سره د خلکو بلدتیا ځکه مهمه ده چې خپل شرکتونه، تجارت او هم کاربارونه ثبت کړي، ترڅو یې مالیه په صحیح او وړ ځای ته ورسیږي د نوي تکنالوژۍ سره بلدتیا له غتو پرمختګونو څخه شمېرل کیږي.




**۱ شکل: سیګتاس سیستم سره بلدتیا،**


سرچینه: د څېړونکي په واسطه راټول سوي

څرنګه، چې د مالیه ورکوونکو شرکتونو څخه په پوښتنلیک کې په داسي ډول پوښتنه سوې وه، چې ایا له سیګتاس مالي سیستم سره بلدتیا لرئ او کنه، د هغو نظرونو له جملې څخه، چې کوم جوابونه لاسته راغلي دي په داسي ډول تحلیل سوي دي، چاته چې پوښتنلیک ورکول سوی وو، د هغو له جملې څخه 24 فیصده خلک له نوموړي سیستم سره بلد وو، علت یې دا وو، چې هغو خپل شرکتونه او یا فابریکې ثبت کړي وي او لیدلي یې وه چې دا یو الیکټرونیکي سیستم سره بلدتیا نه درلوده، لامل یې دا و، چې خپل شرکتونه یې نه وه ثبت کړي، ځکه دوی ویل، چې له څو کالو راهیسي موږ دولت ته مالیه نه ده ورکړې، د مالیې د نه ورکړي په صورت کې په موږ جریمې زیاتي شوي د جریمو

زیاتوالي زموږ کاربار له ځنډ سره مخ کوي او موږ نه سو کولای چې کاروبار ته ادامه ورکړو.

که څه هم په کندهار ولایت کې د سیګتاس سیستم په ۱۳۹۵ ه ش کال په یولسمه میاشت کې پلي سوی دی، د تجارانو او شرکتونو لپاره یې په پراخه کچه اسانتیاوي برابري کړي او ډېري ستونزي یې له منځه وړي خو بیا هم اکثریت خلک د نوموړي سیستم له پروسې سره نا اشنا وو.

شکل (۴،۴):- په لاندي شکل کې به دا څرګنده سي، چې سیګتاس سیستم د خلکو په ژوند کې څومره موثریت رامنځ ته کوي، دا سیستم مالیات په ډېر دقیق ډول سره راجمع کوي، د مالیاتو څخه تېښته نه سي رامنځ ته کېدای، کله چې مالیات په پوره ډول راټول او یو ځای سي نو دولت مکلف دی، چې د مالیاتو په مقابل کې ډول ډول خدمات لکه د بیکارۍ له منځه وړل، د سړکونه پخول، مکتبونه جوړول د برق سیستم برابرول او همداسي نور خدمات سرته رسوي، په دې سره د خلکو د ژوند کچه لوړیږي.





**۲ شکل: د سیګتاس سیستم موثریت**

سرچینه:- د څېړونکي په واسطه راټول سوي معلومات

له پورته ګراف څخه څرګنده سو هغو کسانو ته، چې موږ پوښتنلیک کې توضیح کړې وه، چې پوښتنه یې په دا ډول سوې وه؟ سیګتاس سیستم به ستاسو په راتلوونکي ژوند څومره اغېزه وکړي د هغو له جملې څخه 24 فیصده نظر درلود، چې کمه اغېزه کولای سي دوی ویل، چې یوازي مالیاتي سیستم او مالیاتو په صحیح ډول راټولېدل شاید د ژوند په موثروالي ډېره کمه اغېزه ولري، یوازي دولت نه سي کولای، چې زموږ په ژوند کې موثریت رامنځته کړي دلته ډول ډول مشکلات سته، چې دولت د هغو مخه نه سي نیولای او 16 فیصده نظرونه د ډېر کم اړوند وو، یعني ډېره کمه اغېزه کولای سي او 23 فیصده نظرونه د زیاتي اغېزې په برخه کې راغلي وه، یعني زموږ په راتلوونکي زیاته موثره اغېزه


کوي د دوی په نظر کله، چې د مالیاتو راټولولو لپاره یو معیاري سیستم وجود ولري، نو هر دولت دا کوښښ کوي، چې هیواد یې پر مختګ وکړي او د خلکو د ژوند کچه لوړه کړي پرمختګ کول او د ژوند کچه لوړول یو لړ مصارفو ته ضرورت لري، ترڅو خلکو ته خدمات لکه صحي، امنیتي، زیربنایي، تعلیمي، ساختماني، تفریحي ځایونه او داسې نور خدمات تر سره کړي، نو د دولت د عوایدو یوه لویه سرچینه د مالیاتو راټولول دي، بله برخه نظرونه، چې 16 فیصده وه د ډېرې زیاتې موثري اغېزې په باره کې وه، چې هغو نظر درلود، چې نوموړی سیستم ډېره زیاته موثره اغېزه زموږ په راټلوونکې کوي، علت یې دا وو، چې دولت موږ ته د دې زمینه برابروي، چې موږ ارام ژوند وکړو، ارام ژوند زموږ لپاره تر هرڅه غوره دی او 13 فیصده نظرونه د هیڅ اړوند وو، یعني سیګټاس سیستم زموږ په راتلوونکې کومه موثره اغېزه نه سې کولای، د دوی په نظر زموږ مالیه هیڅ وخت هم په پوره ډول په صحیح ډول نه مصرفیږي، یوازې او یوازې هغه ځا ته یې ګټه رسیږي چې په دولت کې له خپله کوره یو څوک ولري، پاته برخه خلک، چې 8 فیصده کیږي، نه پوهیدل او یا یې کوم نظر نه درلود.




**۳ شکل: په مصارفو کې کموالی**

سرچینه: د څېړونکې په واسطه راټول سوي معلومات

څرنګه چې په پوښتنلیک کې د مالیې ورکوونکو شرکتونو له خاوندانو څخه په داسې ډول پوښتنه سوې وه چې د سیګټاس مالي سیستم په منځ ته راتګ سره ستاسو په مصارفو کې څومره کموالی راغلی دی، له هغې جملې څخه لاسته راغلي جوابونه په دا ډول څرګندولای سو، کومو خلکو ته چې پوښتنلیک ورکول سوی وو له هغو څخه د ۴۱ فیصده مالیه ورکوونکو جواب زیات وو، یعني د ۴۱ فیصده خلکو ویل: زموږ په مصارفو کې یې زیات کموالی راوستلی دی د دوی په نظر چې مخکې د سیګټاس له تطبیق څخه چې کله به موږ کاریګر د مالیه ورکولو لپاره مستوفیت ته واستول په څو څو ورځو به له کاره محروم وو، له کاره محرومیت خپله زموږ په تولید کې کموالی راولي او دا کموالی زموږ له یو ډول مصرف څخه دی، خو اوس د دغه سیستم په راتګ سره موږ ته ډیرې اسانتیاوې برابرې سوي، چې کاریګر مو د څو څو خلي تګ څخه خلاص سوي د دوو یا درو ورځو کارونه په دوه یا درې ساعته کې اجرا کوي او ۱۸ فیصده مالیه ورکوونکو جواب ډېر زیات وو، یعني ډېر زیات کموالی راغلی دی. ۲۲ فیصده نظرونه د کم اړوند وو مراد یې دا وو، چې لږ کموالی راغلی دی، ۱۵ فیصده نظرونه داسې وو، چې هغو ویل زموږ په مصارفو کې ډېر کم کموالی راغلی دی، یعني بیخي لږ تاثیر یې کړی، کیدای سي سیستم زموږ له مصارفو سره کوم تعلق و نه لري بلکې یوازې سهولتونه او شفافیت ایجاد کړي او زموږ پر تولید په اوږدمهال کې اغېز ولري او پاته برخه چې ۴ فیصده کیږي د هغو نظر هیڅ وو، مراد یې دا وو، چې هیڅ تاثیر یې نه دی کړی دا هغه شرکتونه وو، چې د مصارفو اندازه کول یې په پام کې نه وو نیولي.





**۴ شکل: د سیګټاس سیستم شفافیت**

سرچینه:- د څېړونکې په واسطه راټول سوي معلومات

د پوښتنلیک د پوښتنو مطابق یعني د سیګټاس مالي سیستم د شفافیت په اړه مو نظر څه دی، لاسته راغلي جوابونو څخه داسې څرګندونه

کولای سو، چي د سيګټاس سيستم له رامنځ ته کېدو سره هغو خلکو ته مو چي پوښتنليک توضيح کړي وو (۴۰) فيصده نظر داسي وو، چي شفافيت ډېر سوی دی، دوی ويل چي د سيګټاس سيستم څخه خبر يو چي دا سيستم يو سافټوير دی، د مالياتو د مختلفو ډولونو لپاره ډيزاين سوی دی يو څوک نه سي کولای چي په هغه کي لاس وهنه وکړي او يا کوم تغيرات پکښي راولي، نوموړی سيستم د دولت د لوړ پوړو چارواکو په لاس رانيول سوی دی، راپور يې په اتومات ډول مرکز ته استول کيږي او (۱۲٪) فيصده نظر داسي وو، چي نه دي ډېر سوي يعني کوم تاثير يې نه دی کړی، د دوی په نظر چي د ناشفافوالي لپاره نوري لاري هم سته او پاته (۴۸٪) نظرونه نه درلودل يعني نه پوهيدل علت يې هم دا ناخبري وه، چي دوی نوموړی سيستم نه پيژانده.





**۵ شکل: د سيګټاس سيستم له راتګ سره د وخت په ضايع کيدو کي کمښت**

سرچينه:- د څېړونکي په واسطه راټول سوي معلومات

د وخت اړوند مو په پوښتنليک کي داسي پوښتنه کړې وه، چي د سيګټاس مالي سيستم له رامنځ ته کېدو سره مو د وخت په ضايع کېدو کي په څومره اندازه کموالی راغلی دی، تر لاسه سوي ځوابونه په داسي ډول تحليل سوي دي کومو کسانو ته چي مو پوښتنليک توضيح کړي وو د هغو له جملې څخه د (۱۲٪) فيصده نظرونه داسي وه، چي د هغو د وخت په ضايع کېدو کي زيات کموالی راوستی وو، د دوی په نظر د سيګټاس سره چي کله موږ خپل شرکتونه ثبت کړي دي هغو مامورينو چي په دغه سيستم کي کار کوی موږ ته يو د پيژندني نمبر چي هغه نمبر زموږ د جواز نمبر وو راکړ، اوس هر وخت چي زه ماليه تحويلوم يوازي او يوازي هغه د جواز نمبر ورکوم په هغه نمبر چي نور ټول معلومات زما او زما د شرکت په اړه دي له دوی سره سته، وروسته يوه پرچه راکوي، چي هغه زه بانک ته وړم او هلته پيسي جمع کوم، همدا سيستم د وخت په ضايع کېدو کي زموږ سره ډېره مرسته کوي او (۴۱٪) فيصده نظرونه د ډېر زيات وو، يعني ډېر زيات کموالی يې راوستلی دی او د (۲۳٪) فيصد نظر هيڅ وو دا خلک اکثره د کوچنيو شرکتونو خاوندان وو، دوی وخت ته په خاص ډول پاملرنه نه ده کړې او پاته برخه، چي (۲۴٪) فيصده کيږي ناخبره وو، که څه هم سيګټاس يو عصري چټک سيستم دی چي هر ډول محاسبه په اتومات ډول سره ترسره کوي.

د شرکت هر مالک د جواز نمبر په اساس ثبت کيږي چي دا خپله د دوی اى ډي يا د پيژندني نمبر دی د دغه نمبر په واسطه د دوی ټول معلومات په ډاتابيس کي ليکل سوي دي.




**٦ شکل: د سيګټاس سيستم له منځ ته راتګ سره د ماليې په ورکړه کي تشويق**

سرچينه: د څېړونکي په واسطه راټول سوي معلومات

څرنګه چي په پوښتنلیک کي پوښتنه سوي وه چي ایا د سیګټاس سیستم له تطبیق وروسته د مالیې ورکړي ته تشویق سوي یاست کنه د پوښتنلیک له جوابونو څخه داسي څرګندوني سوي دي، هغه خلکو ته چي پوښتنلیک ورکول سوی د هغو له جملې څخه (٦١٪) فیصده نظرونه هو وه، یعني تشویق سوي یو د دوی په نظر پخوا موږ په دې نه پوهېدو چي زموږ مالیه دولت ته رسیږي او که شخصي جیبو ته لویږي اوس چي دا یو کمپیوټري سیستم رامنځ ته سوی دی، چي د فساد مخه یې په پوره ډول نیولي ده، نو موږ په پوره امانت داری سره خپله مالیه تحویل او جمع کوو او (٣٩٪) فیصده نظرونه نه وه، یعني کوم اغېز یې نه وو پر کړی په داسي حال کي لکه مخ کي چي ذکر وسو چي سیګټاس سیستم یو سافټویر دی، د سافټویر شفافیت (١٠٠٪) وي ځکه راپور یې په اتوماتیک ډول مرکز ته رسیږي، نو ځکه پوره شفافیت د دې لامل کیږي چي مالیه ورکوونکي د مالیې ورکړي ته تشویق کړي او خپل دولت ته مالیه ورکړي.

**پایله**

په نړۍ کي هر هیواد د خپلو مصارفو د جبران لپاره عایداتو ته ضرورت لري، چي دولت یې په مختلفو ډولونو سره ترلاسه کوي، یو د مهمو عایداتي سرچینو څخه، چي دولت ترې یوه زیاته اندازه عواید ترلاسه کوي، هغه مالیات دي، چي په پرمختللو هیوادونو کي د مالیاتو د راټولو د مختلفو تګلارو او سیستمونو څخه استفاده کوي نو د دغو سیستمونو څخه یو هم د سیګټاس سیستم دی، نو د دوی څېړني طرح سوي پوښتنو، موضوعاتو او نتایجو ته په کتو سره ښکاري چي د لومړۍ پوښتني په ځواب کي، چي د سیګټاس سیستم اساسي ګټې عبارت دي له د مالیاتو په ترلاسه کولو کي شفافیت راتلل، سیګټاس یو پرمختللی سیستم دی، چي په دې سره د دولت په عوایدو کي د پام وړ زیاتوالی راځي، دا ځکه چي هر څه په کښې مشخص وي او تر ډېره پکښې د غلطیو څخه مخنیوی کیږي او د دوهمي پوښتني په ځواب کي چي په کندهار کي د دې سیستم په واسطه څومره مالیاتي عواید د دولت خزانې ته راغلي دي یا دولت تر اوسه څومره عواید له دې لاري په کندهار کي تر لاسه کړي دي چي د دې سیستم په مټ پرمخ یوسي او نوموړی سیستم څه شی دی، دا ډېره د خوشحالۍ خبره ده چي په کندهار کي د مالیاتو د ترلاسه کولو لپاره د دې سیستم یې په اوسني نړیوال معیاري سیستم چي سیګټاس (Standard integrate Gov Tax administration system) یا د دولت د مالیاتو راټولولو معیاري سیستم ورته وایي. سیګټاس سیستم یو سرور دی، چي پر فعالیتونو کنترول، په اتوماتیک ډول محاسبه، له غلطیانو خالي، په راپور چمتو کولو کي شفافیت، د وخت په کموالي کي مرسته، د مالیه ورکوونکو لپاره اسانتیاوي، د مصارفو کموالی، راپور یې په اتومات شکل مرکز کي جمع کیږي او نوموړی سیستم د مرکز له خوا کنټرولیږي.

## اخځليکونه

**1.** جهلتن یار، محمداسماعیل. کتاب علم مالیه. کال ۱۳۴۱. ص ۴۳

2. بحراني، سید مسعود. اقتصادی افغانستان کامل. کال ۱۳۸۰. ص ۴۶۵-۴۴۹

3. Afghanistan Revenue Department - SIGTAS Project. (2010, March 15). Sigtas.blogspot.com. http://sigtas.blogspot.com/

4. Annual activity reports - European Commission. (2023, June 20). Commission.europa.eu. https://commission.europa.eu/publications/annual-activity-reports_en.

5. Araki, S., & Claus, I. (2014). A COMPARATIVE ANALYSIS OF TAX ADMINISTRATION IN ASIA AND THE PACIFIC. https://www.adb.org/sites/default/files/publication/41792/tax-administration-asia-pacific.pdf.

6. Canada, G. A. (2019, February 25). SIGTAS: The Key to Modernizing Tax Administration in Mali. GAC. https://www.international.gc.ca/world-monde/stories-histoires/2019/mali-sigtas.aspx?lang=eng.

7. Group, W. B. (2020). Integrated Public Financial Management Reform Project Public Disclosure Authorized Public Disclosure Authorized Public Disclosure Authorized Public Disclosure Authorized. https://documents1.worldbank.org/curated/en/545461610560356570/pdf/Liberia-Integrated-Public-Financial-Management-Reform-Project.pdf

8. Impact of SIGTAS system on collection of "Tax Revenue" at STO between 2010-2017 - The Kabul times, Afghanistan Trustable News Agency. (2018, July 22). https://thekabultimes.com/impact-of-sigtas-system-on-collection-of-tax-revenue-at-sto-between- 2010-2017/

9. Murray, K., Oliver, R., & Wyatt, S. (2014). Report prepared for the Ministry of Foreign Affairs and Trade Evaluation of taxation reform in the Pacific. https://www.oecd.org/derec/newzealand/Evaluation-of-Pacific-Taxation-Reform.pdf.

10. Odhuno, F., Sanida, O., Yala, C., & Webster, T. (2014). TAXATION POLICIES AND PRACTICES AFFECTING BUSINESSES AND INDIVIDUALS IN PAPUA NEW GUINEA: OPTIONS FOR REFORM SUMMARY REPORT AND SUBMISSION TO THE TAXATION REVIEW COMMITTEE TAXATION POLICIES AND PRACTICES AFFECTING BUSINESSES AND INDIVIDUALS IN PAPUA NEW GUINEA: OPTIONS FOR REFORM Summary Report and Submission to the Taxation Review Committee by. https://pngnri.org/images/Publications/DP142_-_201410_-_Odhuno_-_Taxation_Policies.pdf.

11. Prasad, R. (2014). The National Research Institute A Symposium Paper SCOPING PAPER: MODERN AND RATIONAL TAX ADMINISTRATION SYSTEM FOR PAPUA NEW GUINEA. https://pngnri.org/images/2013TaxReview/Tax_Administration_Scoping_Paper_-_RV_Prasad.pdf.

12. Regional Economic Outlook (REO): Western Hemisphere - Managing Transitions and Risks, April 2016. (2016, April 11). IMF. http://www.imf.org/external/pubs/ft/reo/2016/whd/eng/wreo0416.htm.

13. Rwanda, K. (2015). RRA. https://www.rra.gov.rw/fileadmin/user_upload/rra_annualreport_2015-16_final.pdf.

14. Sahebe, A. (2020). The Tax Collection and Anti-Corruption Strategy to Reform Afghanistan's Legal Code. SSRN Electronic Journal. https://doi.org/10.2139/ssrn.3591664. 15. Zaied, A. N. H., Grida, M. O., & Hussein, G. S. (2018). Factors Influencing the Successful Implementation of BIS. International Journal of Engineering Trends and Technology, 60(2), 102–108. https://doi.org/10.14445/22315381/ijett-v60p214.

# Impact of Sigtas on Governmental taxation

Arsalan Watandar[1*], Dr. Ali Ahmad[2] and Ahmad latif[3]

[1]Teaching Assistant, BBA Department, Faculty of Economics, Bost University

[2]Assistant Professor, Agricultural Economics and Extension Department, Agriculture Faculty, Helmand University

[3] Student of Department of Business Administration, Faculty of Economics, Bost University

Corresponding Author Email: ar.watan1988@gmail.com

## Abstract

SIKTAS system is a server that organizes government tax collection, created by Canadians, the standard government tax collection system is the best standard system, through which the government can automatically manage all of its departments. Taxes and licenses, which are used for official and real information, the government uses different systems to earn income, among which the SIGTAS system can be mentioned, this system means government taxes. The standard collection management system, which was created by the Canadians in 1992, aims to carry out this research, which is the role, purpose and facilities of the SIKTAS system in Kandahar. To make it clear, this system helps to get money in order to prevent waste of time in every organization and also to prevent corruption and provide facilities to traders. This research is a quantitative and qualitative research. The primary information related to this system was obtained from the employees of the Siktas system and the companies that were registered with this system, through questionnaires and face-to-face interviews. We distributed 80 questionnaires to those 26 were distributed to the employees of the system and the remaining part to the companies and they investigated how much tax revenue has come to the government treasury through this system in Kandahar or how much revenue the government has received in Kandahar through this system

**Keywords:** Taxation, Revenue and Sigtas

# BOST

Academic & Research National Journal


| Volume | Issue | Year |
| --- | --- | --- |
| 2 | 2 | 2024 |